# دیني معلومات

## د کوچنیانو او ځوانانو لپاره



مکـــه شـــریفه



مــدینه مـــنوره

لیکونکی : عبدالعلي رسولزاده

# بسم الله الرحمن الرحیم

د هغو تدریسي کتابو په لړ کې چې په غربت کې ما عبدالعلي رسول زاده په سویډن هیواد کې لیکلي دي یو هم دغه لنډ دینیات دئ. دغه د قدرمنو والدینو او یو شمېر زده کوونکو زیاته غوښتنه وه.

د دغې لیکنې پوره کول به یو څه زیات وخت و نیسي. خو په هر صورت به زه خپلې هلې ځلې کوم.

دغه لیکنه به لاندنۍ درې برخې و لري:

۱ـ عقاید (دغه برخه به د کوچنیانو لپاره د پوښتنو او جوابو په شکل وي).

۲ـ فقه (دغه برخه به ډېره لنډه او اساسي وي).

۳ـ سیرت النبي او یو شمېر دیني کیسې.


عبدالعلي رسول زاده

0046709384755

alirasulzada@hotmail.com

www.pashto.se

# تر پیل له مخه خبري

د مخه تر دې چي په اصلي موضوع پیل و کړو ښه به دا وي چي کوچنیانو ته د ښودلو په وخت کي میندي ، پلرونه او نور مشران د اسلام د پاک دین په اړه څو خبري په نظر کي و لرو څو بیا کوچنیانو ته د ښودلو په وخت کي موږ ور ته متوجه اوسو .

د اسلام معنا تسلیمېدل دي و امر او نهیه ته د خدای تعالی. یعني هر مسلمان وایي: زه د خدای بنده یم او تسلیم یم د خدای تعالی و هر امر او نهیه ته او هغه د زړه له اخلاصه منم.

د خدای تعالی امر د خدای تعالی هغه خبري دي چي بنده ګانو ته وایي چي و ئې کئ لکه د مسلمانۍ پنځه بناوي.

د خدای تعالی نهیه هغه څه دي چي خدای تعالی خپل بنده ګان له هغو کارو څخه منع او بندوي لکه: شراب خوړل ، د خوګ غوښي خوړل، غلا کول ، د نورو خلکو حق خوړل او داسي نور.

مسلمانان د اسلام دین د لاندنیو لارو څخه زده کوي:

۱ـ د قران شریف آیتونه دي

۲ـ احادیث (حدیثونه) دي

۳ـ بیا د مشهورو امامانو خبري دي.
۴ـ د دین د لویو پوهانو فتوی (فتوا)

۱ـ قران شریف د خدای (جل جلا له) خبري دي چي د جبرائیل (علیه السلام) له لاري ئې د خپلو بنده ګانو د پوهولو لپاره حضرت محمد (صلی الله علیه و سلم) ته را لېږلي دي. هري دغي خبري ته آیت ویل کیږي. د قران شریف آیتونه خدای تعالی په کراره کراره د ۲۳ کلونو په جریان کي د بنده ګانو د پوهولو لپاره پر حضرت محمد را لېږلي دي.

۲ـ احادیث د حضرت محمد (صلی الله علیه و سلم) خبري دي. احادیث زیاتره د قران شریف د آیتونو شرحه کول دي.

۳ـ کله چي خلک په آیتونو او احادیثو ښه نه پوهېدل نو بیا د اسلام لویو امامانو خلکو ته د اسلام دین پـه ښه ډول شرحه کړې دئ. دا چي هر یوه د دغو امامانو د اسلام دین شرحه کړی دئ دغي شرحي ته (مذهب) ویل کیږي. دغه امامان لکه:

- امام ابو حنیفه رحمت الله علیه د هجرت په ۸۰ اتیایم کال چي له ۶۹۹ م کال سره سمون لري د عراق هیواد په کوفه کي زېږېدلي. امام ابو حنیفه د امام اعظم په نامه هم یادیږي. دی د حنیفي مذهب منځته راوړونکی دئ.

- امــام مـالک د انس زوی دئ او د هجرت په ۹۳ درېِ نیوییم کال کـي د مدینې منورې په شمال کي زېږېدلی دئ. ده مالکي مذهب منځته را وړی دئ.
- احمد بن محمد بن حنبل په ۱۶۴ هجري کال په بغداد کې پیدا سوی دئ. دی د حنبلي مذهب امام دئ.
- امام شافعي ابو عبدالله په ۱۵۰ هجري سپوږمیز (په هغه کال کي زېږېدلی دئ، کله چې امام اعظم رحمه الله وفات سو). دی د شافعي مذهب امام دئ.
- امام جعفر چي نوم ئې جعفر او لقب ئې صادق دئ. دی د جعفري (شیعه) مذهب امام دئ. دی د هجرت په ۸۰ یم کال کي زېږېدلی دئ.

په یاد ئې و لرئ چي دین مو اسلام دئ بیا نو چي خلک د دغو امامانو له جملې څخه د هر یوه پر لاره ځي هغې لاري ته مذهب وايي چي دغه لیکنه به د حنیفي مذهب پر لاره وي.

د مذهبونو تر منځ زیاتره وختونه مخالفتونه او جګړې وي. ښه به دا وي چي مخالفتونه او جګړې و نه کړو او کوښښ و کړو چي د خپل مذهب پر لاره ولاړ سو.

# لومړی برخه

## عقایـــد

۱ـ پوښتنه : ته د چا بنده یې ؟

جواب : زه د خدای ( الله ) (جل جلا له) بنده یم .

۲ـ پوښتنه : ته چا پیدا کړی یې ؟

جواب : زه خدای ( الله ) (جل جلا له) پیدا کړی یم .

۳ـ پوښتنه : ته د چا اُمتي یې ؟

جواب : زه د محمد (صلی الله علیه و سلم) امتي یم .

۴ـ پوښتنه : محمد (صلی الله علیه و سلم) څوک دئ ؟

جواب : محمد (صلی الله علیه و سلم) د خدای ( الله ) ( جل جلا له ) بنده او پیغمبر دئ .

۵ـ پوښتنه : پیغمبر څه کارونه کوي ؟

جواب : پیغمبر د خدای ( الله ) ( جل جلا له ) خبري د خدای ( جل جلا له ) بنده ګانو ته رسوي .

۶ـ پوښتنه : د خدای (جل جلا له) خبري په څه نامه یادیږي ؟

جواب: د خدای (جل جلاله) خبري د آیاتو په نامه یادیږي.

۷ـ پوښتنه: د محمد (صلی الله علیه و سلم) خبري په څه نامه یادیږي؟
جواب: د محمد (صلی الله علیه و سلم) خبري د حدیثونو په نامه یادیږي.

۸ ـ پوښتنه: پر محمد (صلی الله علیه و سلم) کوم کتاب را غلی دئ؟
جواب: قران شریف.

۹ـ پوښتنه: زموږ د دین نوم څه شی دئ؟
جواب: اسلام.

۱۰ـ پوښتنه: اسلام څو بناوي لري؟
جواب: اسلام پنځه بناوي لري.

۱۱ـ پوښتنه: د اسلام پنځه بناوي کومي دي؟
جواب:

۱ ـ پاکه کلمه
۲ ـ لمونځ
۳ ـ روژه
۴ ـ زکات

۵ ـ حج

۱ ـ پاکه کلمه:

لا اله الا الله محمد رسول الله

۲ ـ لمونځ : پر هر مسلمان باندي که نر وي که ښځه په ورځ کي پنځه واره لمونځ فرض دئ.

د لمانځه وختونه لکه:

سهار (له لمر ختو څخه تر مخه)

ماپښين

مازديګر

ماښام

ماخوستن

۳ ـ روژه: پر هر مسلمان باندي چي لوی او جوړ او په سفر کي نه وي په کال کي يوه مياشت روژه فرض ده. د سهار له لمر ختو څخه تر مخه بيا تر لمر لوېدو پوري.

۴ ـ زکات: پر هر مسلمان چي خان وي فرض دئ چي مسکينانو ته يو څه ور کړي.

۵ ـ حج: پر هر مسلمان که نر وي که ښځه چي تر خپلو ورځنيو اړتياوو ډيري پيسې و لري په ژوند کي يو وار حج فرض دئ.

حج د سعودي عربستان د مکې او مدينې په ښارو کي وي.

فرض: خدای (جل جلا له) چي بنده ګانو ته امر کړی دئ هغه د فرض په نامه ياديږي. فرض دوه ډوله دي:

عين فرض: عين فرض هغه فرض دي چي د يو کس په کولو سره د نورو غاړي نه خلاصيږي لکه: روژه نيول، پنځه وخته لمونځ کول....

کفايي فرض: هغه فرض دي چي يو کس ئې ادا کي د نورو غاړي هم په خلاصيږي لکه: د جنازې لمونځ ....

واجب: هغه کارونه دي چي حضرت محمد (صلی الله عليه و سلم) هر وخت هغه کار کړی دئ او پر هغه ئې ټينګار کړی دئ. مثال ئې د ماخُستن درې رکعته وتر دي.
سنت: حضرت محمد (صلی الله عليه و سلم) چي اُمتيانو ته څه ويلي دي او ئې کله کله کړي دي هغه سنت بلل کيږي.

# ایـمان او اسلام

د ایمان د لغات معنی یـقین او باور درلودل دي. مګر د عقایدو د علم له مخي دي ته وايي چي سړی په خوله وايي او په زړه کي په هغه باور او یقین ولري. مومن هغه څوک دئ چي هغه څه چي حضرت محمد (ص) د خدای (ج) له طرفه راوړي دي په خوله و وايي او په زړه باور په و لري.

که یو څوک په خوله د اسلام کلمه و وايي او په زړه کي په هغه باور ونه لري نو مومن نه دئ او منافق بلل کیږي.

د اسلام د لغات معنی تسلیمېدل دي یعني چي سړی د خدای تعالی و امر ته تسلیم وي.

## په خوله اقرار او په زړه تصدیق

امنت بالله و ملائکته و کتبه و رسوله والیوم الاخر و لقدر خیره و شره من الله تعالی والبعث بعدالموت.

د دي معنی دا ده چي:

ایمان مي راوړی دئ پر الله پاک او پر ملایکو د الله پاک او پر

کتابو د الله پاک او پر رسولانو د الله پاک او پر دې چي د قیامت ورځ سته او پر دې چي خیر او شر ټوله د الله پاک په قدرت او اراده کي دي. او پر دې چي پسله مرګه د قیامت په ورځ د خیر او شر د حساب لپاره بیرته راپاڅېده سته.

د مومن مسلمان عقیده باید داسي وي چي دغه (امنت بالله) په خوله و وایي او په زړه باور په ولري او تصدیق ئې کړي.

خدای تعالی هغه ذات دئ چي مځکي، اسمانونه، انسانان، حیوانان، ټول موجودات او کاینات ئې پیدا کړي دي او هیڅ شریک او ساری نه لري.

## مــلایکي:

خدای (ج) ملایکي پیدا کړي دي. ملایکي هیڅ کله د خدای (ج) له امر څخه سر نه غړوي. د ملایکو له جملې څخه دغه څلور ملایکي دلته لولو:

### ١ ـ حضرت جبرائل علیه السلام:

چي وظیفه ئې پیغمبرانو ته د وحیو[١] راوړل وه.

---

[١] وحي: هغه کلام چي خدای تعالی ئې پیغمبرانو ته وایي.

## ۲ ـ حضرت میکائل علیه السلام :

چي وظيفه ئې د خدای تعالی و مخلوقاتو ته د روزي رسول دي.

## ۳ـ حضرت عزرائل علیه السلام :

چي وظيفه ئې د خدای تعالی د مخلوقاتو روح قبضول ده.

## ۴ ـ حضرت اسرافیل علیه السلام :

چي وظيفه ئې د صور شپېلۍ ږغول ده. کله چي د صور شپېلۍ و و ږغوي د ټولو مخلوقاتو روحونه قبض کيږي او کله چي بیا د صور شپېلۍ و وهي ټول مخلوقات بیرته د حساب لپاره را ژوندي کيږي.

## اسماني کتابوونه :

موږ ایمان لرو پر ټولو هغو کتابو او صحیفو (کوچني کتابونه) چي د حضرت جبرائیل علیه السلام په واسطه د خدای (ج) له طرفه پر پیغمبرانو باندي را نازل سوي دي. اول صحیفې مبارکي چي شمېر ئې سل دئ او بیا کتابونه چي شمېر ئې څلور دئ را نازل سوي دي لکه :

۱ ـ لس صحیفې پر ادم علیه السلام را نازلي سوي دي.

۲ ـ پنځوس صحیفې پر شیث علیه السلام را نازلي سوي دي.

۳ ـ دېرش صحیفې پر ادریس علیه السلام را نازلي سوي دي.

۴ ـ لس صحيفې پر ابراهيم عليه السلام را نازلې سوي دي.
۵ ـ لومړی کتاب زبور دئ چې پر داود عليه السلام را نازل سوی دئ.
۶ ـ دوهم کتاب تورات دئ چې پر موسی عليه السلام را نازل سوی دئ.
۷ ـ دريم کتاب انجيل دئ چې پر عيسی عليه السلام را نازل سوی دئ.
۸ ـ څلورم کتاب فرقان (قران) دئ چې پر محمد عليه السلام را نازل سوی دئ.

## اسلام سوله خوښوي

اسلام د ورور ګلوۍ، عدالت او امن دين دئ. حضرت محمد (ص) د اسلام پيغمبر او رهبر دئ چې د ډېر کوچني والي څخه په ښو اعمالو (کړو) مشهور وو. سوله ئې تر جنګ او عداوت خوښه وه. د غريبانو سره ئې ښه کول. د دې له پاره چې دا و ښيو چې حضرت محمد (ص) تر جنګ سوله خوښوله نو ښه به دا وي چې د حديبيې د سولې قرارداد و لولو.

# د حديبيې د سولې قرارداد

کله چې حضرت محمد (ص) په مکه معظمه کې د مخالفينو له لاسه ډېر په عذاب سو نو ئې د مدينې د خلکو (انصارو[۱]) په بلنه او غوښتنه مدينې شريفې ته هجرت (کوچ) و کړ.

کله چې په مدينه کې د مسلمانانو شمېر زيات سو نو حضرت محمد (ص) د يو زيات شمېر مسلمانانو سره په ګډه و غوښتل چې د حج د فريضې د ادا کولو لپاره و مکې شريفې ته سفر وکړي. خو د مکې قريشو مکې شريفې ته د ننوتلو اجازه نه ور کول.

د هجرت په شپږم کال چې د حج موسم (وخت) را نژدې سو حضرت محمد (ص) و مسلمانانو ته و ويل: "هغه کسان چې غواړي له ما سره حج ته ولاړ سي ځانونه دې چمتو کړي". ۱۴۰۰ مسلمانانو د حج لپاره تياري و نيوله او د مکې پر لور را رهي سول. کله چې حديبيې (مکې ته نژدې يو ځاى دئ) ته و رسېدل، هلته و درېدل او يو سړى ئې د مکې مشرانو ته ور واستاوه چې دوى ته اجازه ور کړي چې حج وکړي. هغو دوى ته د مکې د داخلېدو اجازه ور نه

---

[۱] د مدينې منورې هغه لومړني خلک چې مسلمانان سول او د مهاجرو مسلمانانو سره ئې مرستې کولې. مدينه منوره تر دغه له مخه د يثرب په نامه يادېده.

کړه. پدې سبب نو د مسلمانانو او د مکې د قریشو تر منځ څو ورځې بحث او خبرې و سوې. دوی په حدیبیه کې څو ورځې تیرې کړلې. مسلمانانو به ویل چې د دوی شمېر اوس ډېر زیات دئ کولای سي چې د مکې د قریشو سره جنګ وکړي مګر حضرت محمد (ص) دوی ته د جنګ کولو اجازه نه ور کوله څو په پای کې د مسلمانانو او قریشو تر منځ د سولې یو قرارداد لاس لیک سو چې د حدیبیې د سولې د قرار داد په نامه یادیږي.

په دغه قرارداد کې دا هم ویل سوي وه چې دواړي خواوي به بیا جنګ نه سره کوي. دغه کال دې مسلمانان بېله دې چې حج وکې بیرته مدینې ته ولاړ سي، په راتلونکې کال کې دې راسي او درې ورځې دې په مکه شریفه کې پاته سي حج دې وکړي. دا چې د حضرت محمد (ص) سوله تر جنګ او جګړې خوښه وه دا قرارداد ئې لاس لیک کړ، که څه هم ډېر مسلمانان پدې قرارداد راضي نه ول ځکه چې شرطونه ئې ډېر سخت وه.

یادښت: د مکې شریفې او مدینې منورې تر منځ نیژدې ۴۵۰ کیلو متره لار ده.

# د اسلام پنځه بناوي

د اسلام مبارک دین یو مقدس او د اسماني ادیانو وروستی دین دئ. دغه دین د بشریت د ډېر لوړ او ښه شخصیت حضرت محمد مصطفی په واسطه د انسانانو د لار ښووني له پاره پدې ډول ابلاغ سوئ دئ:

د اسلام بناوي پنځه دي لـکه: پاکه کلمه، لمونځ، زکات، حج او روژه.

## لومړی:

پاکه کلمه (لا اله الا الله محمد رسول الله)

معنی ئې داده چي بېله دغه خدایه څخه بل خدای نشته کوم چي حضرت محمد (ص) ئې رسول دئ. دغه کلمه اسلام ته داخلېده یعني عقیده ده.

## دوهم:

لمونځ:

هغه جسماني عبادت دئ چي پاک خدای پر مسلمانانو باندي په یوه شپه او ورځ کي پنځه واره پر ټاکلو وختو فرض کړی دئ لکه: سهار، ماپښین، مازدیګر، ماښام او ماخوستن.

يادونه : فرض هغه کړه دي چي خدای تعالی پر خپلو بنده ګانو امر کړی دئ . او سنت هغه کړه دي چي حضرت محمد ( ص ) کړي وي او یا ئې خپل امت ته ویلي وي .

ښیله دغه پنځه وخته لمونځو څخه نور لمونځونه هم سته لکه : د جمعې د ورځي لمونځ ، د اختر لمونځ ، د تراویح لمونځ ، د جنازې لمونځ ، د تهجد لمونځ او نور .

څرنګه چي اسلام نظافت ( پاکي ) ډېر خوښوي نو ځکه باید سړی اودس و لري او بیا لمونځ وکړي .

پدغه لاندي ایت شریف کي راغلي دي چي خدای تعالی توبه کوونکي ، پاک او سُتره کسان خوښوي .

ان الله یحب التوابین و یحب المتطهرین .

پدغه لاندي حدیث شریف کي راغلي دي چي نظافت او ستره ګي د ایمان د اثارو څخه دي .
النظافه من الایمان .

دریم :

روژه :

د اسلام د پنځو بناوو څخه یوه بنا ده ، پر هر مسلمان چي جوړ،

بالغ (لوى) او مقيم (مسافر نه وي) وي فرض ده.

## خلورم:

### زكات:

د اسلام د پنځو بناوو څخه يوه بنا ده، پر هر شتمن مسلمان فرض دئ چي و غريبانو ته په يوه معينه اندازه پيسې يا د خپلي مځكي د حاصلاتو څخه ئې ور كړي. پر مال باندي هم زكات فرض دئ او مال پر دوه ډوله دئ.

١ ـ لكه سره زر، نقدي پيسې او د تجارت مالونه، پسونه، غـــوايي او اوښان. د دغو شيانو زكات د دغو شيانو د ارزش څلوېښتمه روپي ده يعني دوه نيم فيصده.

٢ـ غلې، مېوې يعني د ټولو كرل سويو شيان حاصلات چي زكات ئې لسمه برخه دئ چي ځيني خلک ئې عُشر هم بولي. زكات د هجرت په دوهم كال تر روژې له مخه فرض سوى دئ.

## پنځم:

### حـــج:

حج هم د مسلمانۍ د بناوو څخه يوه بنا ده، پر هر شتمن مسلمان په ژوند كي يو وار فرض دئ.

د حج مراسم ببله احرام څخه نور ټوله په مکه شریفه کي پر ځای کیږي. یوازي احرام دئ چي مکې شریفي ته تر ننوتلو له مخه به لا چا وهلی وي. د نارینه احرام تقریبا پنځه متره سپین ټکر دئ چي پر دوو مساوي برخو وېشل سوی وي، یوه برخه ئې لونګ او بله برخه ئې د اوږو له پاسه پر ځان را پېچلی وي. د ښځو له پاره احرام سپین کالي او د سر یو سپین دسمال وي.

د مکې شریفي طواف کول، د صفا او مروا د غرو تر منځ تلل او را تلل، د اختر په درو ورځو کي د شیطانانو ویشتل او د مدینې منورې په حرم کي څلوېښت لمونځه کول او د مدینې زیارت کول دي.